محمد عارف رسولي ۲۰۱۶/۰۵/۲۱

# تولنې او ملتونه څنګه انکشاف کوي، ستونزې او فرصتونه

## نولسمه برخه

### سريزه:

د دې مقالي موخه دا ده چې د ټولنو او ملتونو د پرمختګ په پروسه، شرايطو او غوښتنو په هکله د محترمو لوستونکو او په تيره د ځوانو کدرونو مالومات زيات شي. دلته به د انکشاف او پرمختګ په پيژندنه، ډولونو، شرايطو او لارو چارو نظر ورکړو.
لغتونه: انکشاف، پرمختګ، وده، رشد، پراختيا، تلپاتي انکشاف، انساني پانګه (سرمايه)، ټولنيزه پانګه،

### ټولنې او ملتونه څنګه انکشاف کوي؟

هرڅوک د پرمختګ او انکشاف (پرمختګ) په هکله خبرې کوي، هرڅوک غواړي ټولنه او ملت يې پرمختګ وکړي. خوعام خلک او ان ځيني شنونکې پرمختګ سم نه پيژني، ځيني پرمختګ يوازې په ملک کې يوازې زيربنايی کارونو لکه سړکونو او سترو فابريکو شتون بولي. نور خلک پرمختګ بيا د سړي سر ناخالصه ملي عوايدو په لوړيدو او اقتصادی ودې پورې تړلی بولي. خو په حقيقت کې پرمختګ يو پيچلي مفهوم دی او زيات بحث ته اړتيا لري. دلته به په دې ليکنه کې د انکشاف (پرمختګ) تعريف د نړيوال بانک له نظره وړاندې کړو.

### د پرمختګ پيژندنه:

انکشاف يوه داسې پروسه ده د کومې په بهير کې چې ګڼون کوونکي هغو پريکړو ته شکل ورکوي چې په ژوند يې اغيزه کوي. د پرمختګ په بهير کې انسانان د يوه ټيټ حالت څخه و ښه حالت ته پورته کيږي. انکشاف مشارکتي سوچ، هڅو، کار، پوهې، له تيرو تجربو او نورو خلکو زده کړې، زيرمو او ښو مشرانو ته اړتيا لري. حقيقي انکشاف د ټولنو او يکي ميشتو انسانانو د خود کفايې، هوسايې، او مثبت بدلون په مانا دی. همدارنګه، پرمختګ د بيوزلی، لوږې، جهالت، شخړو، يو بل نه منلو، کرکو او نفرتونو څخه خلاصون دی.
بله دا چې هغه ټولنه او ملت پرمختګ کولای شي چې ورته تنده ولري، غواړي يې او په دې پروسه کې فعال ګډون ولري، نظر ته يې د منل شوو اصولو په چوکاټ کې اهميت ورکړل شي او په پريکړو اغيزه وکړلای شي.
د پورته تعريف په بنسټ په کليوالو او ښاري سيمو کې د پروګرامونو داسې پلي کول چې ځايي خلک په کې ګډون ونه کړي، حقيقي پرمختګ نشي راوستلای. په بل عبارت يوازې زيربنا لکه سړکونه، بندونه، او نورو جوړل، يوازې د دولت او قراردادیانو لخوا، د ځايي خلکو له ګډون پرته، په سيمه کې واقعي پرمختګ نشي راوستلای.
پرمختګ او انکشاف څو اړخونه او ډولونه لري. د انکشاف دا ډولونه اقتصادي، بشري، صنعتي او پايداره انکشاف دي. اقتصادي پرمختګ تر ډيره د ملتونو د سړي سر ملي ناخالصه کلني عوايدو لوړيدو ته ويل کيږي. د دې رشد مفهوم بيا مور ته ټولنيزه هوساينه، عدالت او د ثروت ويش سم نه راښيي. بشري انکشاف بيا د بشر د هوساينې په مفهوم دی. د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام بشري انکشاف داسې تعريفوي: بشری انکشاف د خلکو د انتخابونو د پراخولو پروسه ده، د ياد شوو انتخابونو مثالونه دادي چې: وتوانيږی اوږد او صحي ژوند وکړي، تعليم وکړی شي، د عزتمند ژوند کولو د کچې لرونکی وي، سياسي ازادي، او نور بشری حقونه يې خوندي او تضمين وي. يو بل ډول انکشاف چې پايداره انکشاف ورته وايي نن سبا زيات مشهور دی.
پايداره هغه انکشاف دی چې د اوسني نسل اړتياوې پوره کوي، بيله دې چې د راتلونکو نسلونو د اړتياوو د پوره کولو توان کم کړي. تلپاتي يا پايداره پرمختګ په دريو بنسټونو لکه د ټولنيزه پلوه د منلو وړ، د ايکالوجيکي نظره پايداره، او د اقتصادي لوري څخه هم مرغوب او په ګټه وي. نړی وليدل چې د ورستی پيړی پرمختګ پايداره او تلپاته نه و


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

ځکه ځینو بډایو هیوادونو د طبیعت تر جذب زیات غازونه تولید، طبیعي زیرمي مصرف، خرابي او چاپیریال یې ککړ او اوس بشر د هواد بدلون او توخي سره مخ دی.
د تلپاتي ودې تعریف دوه بنسټه خوندي کوي. لمړی، د نړی د بیوزلو خلکو، څوک چي زیات وختونه د پرمختګ ګټو او میوو ته لاسرسی نه لري، ستونزو ته اهمیت ورکوي. دوهم، د طبیعي زیرمو د فرسایش او تخریب مسئلي ته چي، د راتلونکو نسلونو د اصلي اړتیاوو د پوره کولو مخه نیسي، زیات پام کوي.
د ټولنو د انکشاف او پرمختګ لپاره، د خلکو بشري او ټولنیزي سرمایې زیات اهمیت لري. بشری پانګه د افرادو نرم مهارتونه لکه اړیکي نیول، د ځان او خپل فکر ارزونه، پوهه، یا نور غیر مربي پانګي دي چي پخپله د دوی، د دوي د استخداموونکو، یا د هغوی د ټولنو لپاره اقتصادي ارزښت رامنځته کوي. ښوونه او روزنه یوه داسي پانګونه ده چي د زیات تولید په شکل ګټه رسوي. همدارنګه، دا ښکارندي په ښه ښوونه او روزنه، ښه روغتیا، غوره کلتور او یو ښه ټولنیز او سیاسي چاپیریال کي وده کولای شي.
همدارنګه، د ټولنو او ملتونو د پرمختګ لپاره ټولنیزه پانګه ورځ تر بلي زیات اهمیت مومي. ټولنیزه پانګه د هغو خلکو په منځ کي چي په یوه ځانګړې ټولنه کي ژوند او کار کوي، د اړیکو یوه شبکه ده چي، هغي ټولني ته د اغیزمن فعالیت توان ورکوي.
اوس باید ووایو چي انکشاف څنګه راځي، لاري چاري یې کومي او په مخ کي یې خنډونه څه دي. دلته به پخپل هیواد کي د انکشاف په مسئلو، خنډونو او حل لارو خبرې وکړو.

## زموږ د هیواد د پرمختګ ستونزه څه ده؟

د اوږدو شخړو له کبله زموږ اقتصاد، ښوونیز نظام او ملي نهادونه ویجاړشول. زموږ د خلکو انساني او ټولنیزو پانګو چي د پرمختګ لپاره تر نورو دودیزو پانګو لکه مالي، طبیعي او نورو نن سبا زیات اهمیت لري، اړینه وده ونکړه. د بیان ازادي که په نړیواله توګه منل شوې، زموږ په شمول د زیاتو هیوادونو اساسي قوانینو منلي لامل یې دادی چي د بیان له ازادئ سره د انسان فکر، سیاسي او ټولنیز شعور زیاتیږي او استعدادونه ورسره رشد کوي. خو باید په یوه اخلاقي او منل شوي چوکاټ کي ورځخه ګټه واخیستل شي. که دا چوکاټ رامنځته او مراعات نه شي، د ټولني اخلاق او معیارونه شړیږي، کرکي، تاوتریخوالی او جنایتونه رامنځته کیږي. په پای کي ټولنه په اوږد مهاله کړاوونو اخته کیږي.
ذهني او فکري وده د مالوماتو د تبادلې، ازادو بحثونو، کتاب لوستلو، کنفرانسونو او سیمینارونو په مرسته تر لاسه کیږي. ډیری افغانان ازاد بحث او د نظریاتو تبادلي ته زیات اهمیت نه ورکوي. یو لامل یې دادی چي، د ازاد بحث په ګټو او اړینتوب سم نه پوهیږي او بله دا چي بحث کول زموږ په ټولنه کي یوازې د نورو د ملامتولو او یا په هغو د خپلو نظریاتو د منلو په مانا قبول شوی دی. که په ټولنه کي د نظریاتو تبادله په علمي توګه وشي، بحثونه په یوه منل شوي چوکاټ کي ترسره شي ستونزې حل او ټولنه پرمختګ کوي. خو که بحثونه او شنني په معیاري او اصولي توګه ونشي تر ګټو یې تاوان زیاتیږي.
زموږ په ټولنه کي د پورته یاد شوو لاملونو له کبله د ذهني ودې، سیاسي او ټولنیز شعور، کلتور، پوهې، انساني پانګي او ټولنیزې پانګي په وده سم کار نه دی شوی، او نه د پرمختګ دا مهم فکتورونه سم پیژندل شوي دي. پوهان وایي ټولنیز پرمختګ دادی چي داسي یو چاپیریال او شرایط رامنځته شي چي، خلکو ته په ځان اعتماد او باور پیدا شي، هغوی د خپلو ستونزو سمه ارزونه وکړی شي، لمړیتوبونه وټاکي، د خپلو ټولنو لپاره پلان جوړ او په پلي کولو کي یې په مسوولیت سره برخه واخلي.
زموږ په ملک کي انکشاف (پرمختګ)، ورته اړینه پروسه، وړتیا او شرایط سم نه دي پیژندل شوي. زموږ د ډیری شنونکو د ارزوني او استدلال متودونه هم سم نه دي. د حقایقو د پلټلو په ځای د احساساتو زیاته پلوي کوو. نو ځکه له استدلال کولو، نظر ښکاره کولو او د بیان له ازادی څخه موږ سمه ګټه نشو پورته کولای. کله کله زموږ د بحثونو انجام یو بل ته د بد رد ویل وي. زموږ ځیني خلک د بل خبرو ته نه سم غوږ نیسي او نه پکي کوم ارزښت ګوري او فکر کوي چي ټل سمه خبره دوی کوي او د بل نظر ته کومه اړتیا نهویني.
زموږ په غونډو، تلویزیوني شننو، ټولنیزو رسنیو، ویب پاڼو او لیکنو کي د ازاد بحث په ګټو، میتودونو او اخلاقو باندې له یوې خوا پوره پوهاوی کم دی او د شته اړوندو ارزښتونو سم درناوی نه کیږي. دا ځکه چي موږ خپل مجلسونه او غونډې په دودیزو لارو پرمخ وړو او د سمولو هڅي یې نه کوو او نه کوم منل شوی چوکاټ ورته جوړوو. د ازاد بحث لمړنی موخه باید داوي چي د راز راز کسانو له پوهې، تجربې، نظر او غوښتنو څخه خبر شو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولـئ

او ورځخه ګټه واخلو. دا کار هلته شونی دی چي بحث د یوه ټاکلي شوي چوکاټ، متقابل درناوي او منل شوو اصولو له مخي وشي. یو ځوک یوازې خپل نظر، پرته له دې چي نورو ته سپکاوی وکړي، ووایي او قضاوت خلکو ته پریږدي، ترڅو د بحث، څېړني او د نظرونو د تبادلي په پای کي مسئلي او حقایق روښانه شي.

## د انسان ذهن او استعداد څنګه وده کوي؟

لوی لوی پوهان او مفکرین یوازې د نورو د نظریاتو په زده کولو او منلو خپلو مقامونو ته نه دي رسیدلي. په حقیقت کي د هغوی ذهن، شعور، عقل، احساسي زیرکتیا او پوهه د ذهني تمرین، تجربو، څېړنو، پخپلو او د نورو په نظرونو شک کولو او ورځخه د زده کړې په پای کي لوړو پوړیو ته رسیدلي دي. دا یو اصل دی او د سازمانونو، ټولنو، ملتونو او دولتونو په حق کي هم رښتیا دی. دا بحث په یو ځو لاندي مثالونو غزوو.
د نن زماني د لوړو زده کړو د موسسسو کوریکولمونه او پروګرامونه د همدې اصل په بنا شاګرد بنسته جوړیږي. شاګرد بنسته، هغه درسي نظام دی چي ټول پرمختللي ملکونه یې کاروي، د زده کړو هغه سیستم دی چي شاګرد ته موکه ورکوي چي مدام ژور فکر وکړي، خپل او د نورو نظر له پوره غور وروسته ومني، مسوولیت واخلي، د درس منځپانګي او په عملي ژوند کي یې ګټو ته پام وکړي.
په نن زمانه کي د بیوزلي د ورکولو، د ښوونیز نظام، کاروبار، د کلتور، اقتصاد او ټولنیزي ودي لپاره په مشارکتي پروګرامونو زیات تاکید کیږي. د نن زماني پرمختیایي علوم هم رابښیي چي، په ټولنیز، سیاسي او اقتصادي ژوند کي هم که انسانان او ټولني د ژوند د ستونزو، لاسته راوړنو او راتلونکي په هکله په ګډه ژور فکر وکړي، مسوولیت ومني، او تل د نوښت او اصلاح په فکر کي وي پرمختګ کوي شي او بریالي کیږي. د پرمختګ ساحي زیاتي پراخي شوي دي او په هره ساحه کي د ټولو اړوندو خلکو پوهي ته اړتیا ده. د مثال په توګه د زراعت په وده، د کلو او ښاري پراختیا په پروګرامونو او نورو ورته مسئلو کي که کومه ټولنه او ملت پرختګ غواړي ورته اړتیا ده چي په مشارکتي شکل لاندي قدمونه واخلي: لمړی قدم، د فرصتونو او محدودیتونو پیژندنه، دوهم قدم، د عملي حل لارو موندل چي ننګونو او محدودیتونو ځواب ووایي، او دریم قدم، سلامشوري کول ترڅو د عمل پلان ته اخري شکل ورکړي او پلی یې کړي. دا فورمول تر یوې کچي په هر سکتور او د ژود په هر ډګر کي اړین بریښي.
دا چي قرآن هم موږ ته په زیاتو مبارکو آیتونو کي د تعقل، تدبر او تفکر امر کوي د پورته واقعیتونو تایید کوي. همدارنګه، قرآن عظیم الشان د یسوف علیه السلام هغه پلان چي مصر د هغه وخت د وچکالی لپاره یې جوړ او پلی کړ تایید او ستایي. د پلان کولو وړتیا د فکر، تدبیر، هڅو،
تمرین او مشورو په پای کي وده کوي. په خواشینی سره زموږ د ځینو کسانو د ارزوني او تحلیل قدرت کم زوری دی، هغوی د مسئلو ټولو اړخونو او په تیره خپلو تیروتنو او مسوولیتونو ته نه ګوري.

## یو څه پرمختګ هم شته:

په وروستیو ځو لسیزو کي یو شمیر مرستندویه ټولنو هڅه وکړه، چي مشارکتي پروسه، ارزونه او عامه پوهاوی د پرمختیایي پروسي په مرسته په افغانانو کي زیات کړي. په راز راز اړخونو کي د ټولنو، کارباري خلکو، ښوونکو، استادانو، ژورنالستانو، بزګرانو او نورو په دولتي او نادولتي پروژو کي ګډون زیات او پرمختیایي پوهه یې زیاته شوه. د دې لپاره د غوره کدرونو روزل، بیا د هغوی په مرسته په منظمو پرمختیایي او د بیوزلی کمولود پروګرامونو په مټ د ملت له ټولو پرګنو سره کار کول یو اړین کار دی. د مثال په توګه، ګورو چي د فساد کمول، د پروژو سم او د خلکو په ګټه پلي کول تل په خبرو نه تر لاسه کیږي. د سمو دولتي پالیسیو ترڅنګ عامه پوهاوی، د خلکو ګډون، دهغوی نظارت او څار، پوښتنه او په ټوله پروسه پوهه خورا مهم څیزونه دي. د پورته دلایلو له کبله یوازې دولت سمي پروژې نشي پلي کولای، او د خلکو مرستي ته اړتیا لري.
څو کاله مخکي ز ه د ځینوهغو افغانانو سره چي پخوا یې له نړیوالو موسسو سره د کار تجربه لرله، څو اوس یې له مختلفو دولتي ادارو سره کار کاوه، د نړیوال بانک لخوا د یوه ټریننګ لپاره هند ته لاړم. د بحثونو او خبرو په بهیر کي هندي پوهان په پرمختیایي مسئلو، پروژو او اړوندو موضوعاتو باندې د دې افغاني هیئت وړتیا، پوهي او تجربو ته ګوته په غابښ شول. هغوي حیران وو چي په ښځرو وهلي افغانستان کي دا کسان له دومره پوهي سره څنګه راپیدا شوي. زما په نظر دا کسان د همدې ټریننګونو، بحثونو، له نورو د زده کړو، څیړنو او تفکر له لارې دې ځای او پوهي ته رسیدلی وو. د همدې خلکو برکت و چي د افغانستان ځیني ملي پروګرامونو او پروژو ښې پایلي درلودې،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

خلکو ته یي ګټه ورسیده، نړیوال شهرت یي وموند اوخلک هم په نسبي توګه ورځخه خوشاله ښکاري. همدارنګه، د نړیوال بانک یوه هیئت څو کاله مخکې د ټولنیزو پوهانو په ګډون کابل ته راغلی وو. د هیئت غړو د نړی د زیاتو هیوادونو او په تیره د سویلي اسیا د هیوادونو د کلیوالي پروګرامونو په هکله ښه بلدتیا لرله. موږ هغوی د ملي پیوستون د ځینو کلیوالي پرمختیایي شوراګانو له غړو سره کینول. د خبرو په لړی کې دا کارپوهان حیران شول چې د افغان کلیوالو پوهه، ځیرکتیا او تحلیل یي ولیدل. دا ځکه چې له دې کلیوالو سره د ستونزو په ارزونه، حل لارو او لمړیتوبونو په موندلو کې د ملي پیوستون کدرونو په مشارکتي پروسه کې کار کړی و.
په همدې توګه، د کدرونو د لاس نیوي ترڅنګ، د تفکر، مشارکت او روزني اصلونه د هغو خلکو په هکله هم سم دي چې موږ غواړو د ژوند سطحه یي لوړه کړو او له بیوزلی څخه یي راوباسو. د کلیوالي سیمو په پرمختګ، بیوزلی ورکولو، او په ځان بسیا کیدو لپاره هم ستر او بنستیز اصل دادی چې دولتي او نا دولتي اداري باید داسي شرایط او کاري چاپیریال رامنځته کړي چېرې چې، کلیوال د خپلو ستونزو په هکله فکر وکړي، ننګوني و ارزوي، د حل لارې او لمړیتوبونه په ګوته کړي، پروګرامونه جوړ او هم یي په پلی کولو کې ونده واخلي. دلته د امکاناتو د برابرولو په څنګ کې د خلکو شعور لوړیږي، ستونزې او لمړیتوبونه پیژني. په دې پروسه کې د خلکو په ځان او په خپلو همکارانو اعتماد ټینګیږی او د پرمختیایي پروسي مالکیت تر لاسه کوي او کومې لاسته راوړنې چې له پروژو لاسته راغلي هغوی یي ساتنه کوي، ورځخه زده کوي او پایلي یي تلپاته کوي. په اصل کې پرمختیایي پروسه، د خلکو پوهاوی او دهغوی په ځان اعتماد تر لاسه کول تر امکاناتو او پیسو زیاته اغیزه لري. امکانات او پیسی ښه دي، خو یوازې پرمختګ نشي رامنځته کولای. له همدې کبله په افغانستان کې په ورستیو پنځلسو کلونو کې د نړیوالو زیاتو پیسو زموږ ټولنه پخپلو پښو ونه دروله او په ځان بسیا نشوه ځکه زموږ نور شرایط سم برابر نه وو.
په پرمختیایي پروژو کې خلک د ستونزو او منازعاتو د حل په لارو چارو فکر کوي او په ګډه د عادلانه او ټولو ته د احترام او ګډو ګټو په چوکاټ کې د لارو چارو پلټنه کوي. په دې پروژو کې د خلکو د بنستیزو ستونزو لکه د څښلو د اوبو، د معیشت، کرني، روغتیا، ښووني او روزني او نوروو سکتورونو په وده فکر کوي، په دولتي پروګرامونو نظارت کوي، د فساد مخه نیسي، رونوالی رامنځته کوي او په انکشاف کې ونده اخلي.

## یو څوسپارښتني:

۱ ــ په هیواد کې د نظریاتو سمې تبادلي، غوره ټولنیزو مدني او علمي بحثونو ته باید ژمن و اوسو. دا کار مو له یوې خوا د تمدن او پرمختګ په لور بیایي، او له بلې خوا اسلامی، انساني او مدني اخلاق یي هم ایجابوي،
۲ ــ زموږ ښونکي، لیکوالان او پوهان مو باید د انکشاف د ځرنګوالي، شرایطو او غوښتنو په هکله لیکني او څیړني وکړي. همدارنګه، باید د پرمختګ لپاره په دولتي ادارو، خصوصي سکتور، مدني ټولنو، مسلکي انجمنونو، اکادیمکي ادارو او نورو کې اړینه اړینه وړتیا رامنځته شي،
۳ ــ زموږ د پوهنتونونو کوریکولمونه او او پروګرامونه باید نوي او شاګرد بنسټه شي، په علمي روشونو د اکریډتشن پروګرامونه چټکی پلان او پلي شي،
۴ ــ زموږ د پوهنتونو په کوریکولم او پروګرامونو کې باید د نرمو مهارتونو ودې ته پوره پاملرنه وشي، ترڅو ښه رهبران، مدیران، د مثبت فکر لرونکي او دکار خلک وروزي،
۵ ــ په هیواد کې باید په ټولو اړونده ساحو کې لکه، د فردي ذهانت په وده، د ښوونیز نظام په رغونه او پرمختګ کې، په کلیوالو او ښاري ساحو کې د پرمختګ او د بیوزلی د پروګرامونو په پلي کولو کې له مشارکتي روش څخه کار واخلو. په ملک کې ګټور پروګرامون شته، زیاتي لاسته راوړني هم لري، خو زموږ پوهان، لیکوالان، ښونکي او د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکزونه باید هغه په غور و ارزوي، لاسته راوړنو او ستونزو ته یي په بې پرې توګه پام وکړي او د راتلونکي سمون لپاره یي وړاندیزونه وکړي.

د نولسمي برخي پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ